# پر کوچنیو هېوادونو د سترو  قدرتونو د سیاسي نوسان اغېزې: په ۲۰۲۱ ز کال کې د افغانستان سیاسي نظام د بدلون د قضیې مطالعه

پوهنمل دکتور احمد جاوید شکیب، د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالیزم څانګه
برېښنالیک: javid.shakib@gmail.com یا javid.shakib@su.edu.f

**لنډیز**

د ۱۶۴۸ –ز کال د وستفالیا تړون څخه را وروسته په نړۍ کې د ملي دولتونو د رامنځته کېدو له پیل سره سم  سترو قدرتونو پر کوچنیو هېوادونو د نفوذ  هڅې پیل کړې. له شپاړسمې پېړۍ څخه د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې سپین پوسته اروپایانو  د افریقا، آسیا او امریکا  په لویو وچو کې واړه هېوادونه  مستعمره کړل. له استعمار څخه وروسته هم پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو د نفوذ پروسې دوام درلود. کوچني هېوادونه د نړیوالو سترو قوتونو د سیاسي نوساناتو له امله ډېری وختونه له بې ثباتۍ او بحران سره مخامخ کېږي.  د دې مقالې موخه دا ده چې، دې  ته کتنه وکړي، چې څنګه د سترو  قدرتونو سیاسي نوسانات پر کوچنیو هېوادونو اغېز کوي، او دا چې آیا کوچني هېوادونه د دې نوساناتو په وړاندې مقاومت کولی شي.  په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د نظام بدلون قضیې ته په کتو د وسله وال مقاومت رول ته په اشارې استدلال کېږي چې که څه  هم د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات پر کوچنیو هېوادونو تاثیرات لرلی شي، په عین حال کې پر کوچنیو هېوادونو کې انقلابي خوځښتونه هم کولای شي، چې د سترو قدرتونو د سیا ست د بدلون لامل شي.  په دې مقاله کې د نړیوالو اړیکو د نظریاتو په رڼا کې استنباطي (استنتاجي) مېتود څخه په ګټې اخیستنې د  سترو قدرتونو سیاسي نوسانات او د کوچنیو هېوادونو پر و ضعیت یې اغېزې څېړل  شوې دي. په مقاله کې په ځانګړې توګه  د افغانستان پر اقتصادي او سیاسي بدلون  د سترو قدرتونو رول تر  بحث لاندې نیول شوی دی.

**کلیدي کلمې**: سترقدرتونه، کوچني هېوادونه، سیاسي نوسان، وسله وال مقاومت،  نظام بدلون

**سریزه**

**بسم الله والحمد لله والصلواة والسلام علی رسول الله وبعد: قال تعالی اعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: ولاتهنوا و لا تحزنوا و أنتم الأعلون إن کنتم مؤمنین (الآیة)**

په اروپا کې له مذهبي جګړو وروسته، کله چې په کال ۱۶۴۸ ز کې د وستفالیا سولې تړون لاسلیک شو او د خپلواکه ملي دولتونو د رامنځته کېدو سلسله پیل شوه، له دې پروسې سره سم د نړۍ سترو قدرتونو په یو نه یو شکل د اشکالو څخه کوله تر څو پر کوچنیو خپلواکو دولتونو خپل نفوذ ولري. د شپاړسمې پېړۍ څخه د شلمې پېړۍ نیمایي پورې سپین پوسته اروپایان د اتلانتیک سمندر پورې، شمالي او لاتیني امریکا کې یې کوچني هېوادونه مستقیماً تر کنټرول لاندې راوستلو سره مستعمره کړل. اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې سپین پوسته اروپایانو تقریباً ټوله افریقا ( پرته له ایتوپیا او لیبریا څخه) خپلې مستعمرې وګرځولې. دوی کلونه، کلونه د افریقایي هېوادونو منابع د خپلو هېوادونو د بډایښت، پرمختګ او سیاسي اقتدار لپاره وکارول. په لومړۍ نړیوالې جګړې کې د عثماني سلطنت تر سقوط وروسته آسیا په خاصه توګه بیا منځنی ختیځ هم د وخت د سترو قدرتونو د سیالۍ او نفوس تر مستقیم تاثیر لاندې و. د عراق، سوریې، فلسطین، اردن، حجاز او لبنان تر منځ د بیلتون کرښې فرانسې او انګلېستان ایستلې دي. د انګلستان د وخت صدراعظم بالفر په یوې اعلامیې کې د فلسطین په خاوره کې اسرائیلو ته د یوه دولت جوړولو طرح هم وړاندې کړه.

د شلمې پېړۍ له نیمایۍ څخه را وروسته کله چې مستقیم استعمار تقریباً په ټوله نړۍ کې پای ته ورسید، د نوي استعمار پروسه پیل شوه. د نړۍ سترو قدرتونو پر کوچنیو هېوادونو د اقتصادي، نظامي او سیاسي برلاسیو پر مټ نفوذ پراخه کړ. د سړې جګړې په دوران کې کوچنیو هېوادونو یا د امریکامتحده ایالاتو د غرب د کپیټلېزم اقتصادي او لېبرالېزم سیاسي سیستم تر اغېزې لاندې ول ، یا هم په کوچنیو هېوادونو کې کمونیستي ګوندونو د پخواني شوروي اتحاد په ملاتړ په خپلو هیوادونو کې د کودتاګانو او یا هم ټاکنو له لارې قدرتونه ترلاسه کړل. دوی خپل هېوادونه د شوروي اتحاد د سیاسي او اقتصادي سیستم سره همغږي کړل.

په ۱۹۷۹، بیا په ۱۹۹۰ لسیزې کې په افغانستان کې د نظامونو بدلونونه، په ۲۰۰۱-ز کال کې پر افغانستان د جمهوري سیستم تحمیل ، په ۲۰۲۱ کال کې افغانستان جمهوري سیاسي سیستم ړنګیدل، په ۲۰۲۲ کال کې په اوکرین کې د فدرالي روسیې جمهوریت او اوکراین تر منځ د جګړې پیل کېدل او په ۲۰۲۴ کال کې، سوریه کې د بشارالاسد د رژیم سقوط، اصلي علتونه په یوه نه یوه ډول د سترو قدرتونو د سیاسي نوسان سره اړیکه لري..

**موخه**

د دې مقالې هدف دا دی، تر څو د نړیوالو اړیکو د تیوري په چوکاټ کې عملي شــواهدو په وړاندې کولو سره لوستونکو ته وښودل شي چې څرنګه پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات اغېزې کوي. همدارنګه د دې لیکنې بل هدف دا دی چې معلومه کړي آیا په کوچنیو هېوادونو کې مقاومتونه د سترو قدرتونو په سیاسي نوساناتو کې رول لوبولی شي؟ د دې لپاره چې د سترو هېوادونو د سیاسي تغیراتو د تاثیر نمونه وښودل شي؛ لیکوال په کال ۲۰۲۱-ز کې له یوه نیمه لیبرال سیاسي سیستم څخه داسلامي ا مارت سیستم ته د افغانستان په اوښتو کې د سترو قدرتونو بلخصوص د امریکامتحده ایالاتو د بهرني سیاست د تغیر قضیه تر کتنې لاندې نیسي.

**اهمیت**

اوسنۍ نړۍ کې کوچني او ستر هېوادونه دواړه دې ته اړتیا لري، چې په خپل منځ کې اړیکې ولري. د هیوادونو تر منځ اړیکې د اقتصــادي ودې، ســیاسي تفاهم او ټولنیز پرمختګ لامل کیدای شي؛ خو ډېری وخت له کوچنیو هېوادونو سره د سترو قدرتونو نا انډوله اړیکې د دې لامل هم کیدای شي، چې کوچني هېوادونه د سترو قدرتونو د سیاسي نوسان څخه اغېزمن شي. حتی د سترو قدرتونو سیاسي نوســانات کوچني هېوادونو کې د بي ثباتي، کورنۍ جګړې او د نظامونو د بدلون ســبب هم ګرځیدای شي. دا چې پرکوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو د سیاسي نو سان اغېزې د نړیوالو اړیکو د بحث مهمه مو ضوع ده، افغانستان هم یو له هغو کوچنیو هېوادونو څخه دی، چې د سترو قدرتونو نو ساناتو له کبله تل له سیاسي او امنیتي بي ثباتۍ سره مخامخ شوی دی. همدې ټکې ته په کتو دا څېړنه تر سره شوې تر څو ځوان کهول خبر او وهڅول شي چې د خپل هیواد په ګټه د مناســب قضــاوت او مناســبو پریکړو څښتنان واوسي. همدارنګه د افغانستان بهرنیو اړیکو مسؤلین د سترو قدرتونو تحولاتو په نظر کې نیولو سره ضرورت لري چې په داسې موضـوعاتو د پوهیدو سره داسې ســتراتیژي جوړې او پلي کړي، او او ضاع په دا سې مهارت سره مدیریت کړي چې د نړۍ د سترو قدرتونو د سیا ستونو بدلون د دې پر ځای چې په هېواد کې بي ثباتۍ راولاړې کړي، بالعکس د اقتصــادي بهبود او ټولنیزې رفاه پر لور سوق او هدایت شي.

**کړنلاره او کارتوکي**

په دې مقاله کې لیکوال د څېړنې له کیفي مېتود څخه اســتفاده کړې ده. لیکوال پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو پر اغېز د بحث لپاره د په ۲۰۲۱ کال کې له جمهوري ســیســتم څخه اسلامي امارت ته د نظام د اوښتون قضیې ته کتنه کړې، چې څرنګه د امریکامتحده ایالاتو کې سیاسي نو سان پر افغانستان

اغېز درلود. پر کوچنيو هېوادونو د ســتروقدرتونو اغېز ليکوال د نړيوالو اړيکو له انده تر مطالعې لاندې نيولې ده. په دې برخه کې يې کتابونه او علمي مقالې مرور کړي دي. دا چې ليکوال عملاً په سـيمه کې اوسـيږي، د سـترو قدرتونو د بهرنيو چارو وزارت سـياسي تغيرات يې مشـاهده کړي، په هکله يې رسـنۍ تعقيب کړي او خپل مشـا هدات يې د پرتلې په بڼې تحليل کړي او بيا يې په تشرــيحي Descriptive بڼې وړاندې کړې، د سترو قدرتونو سيا ستي تحول يې په تو ضيحي Explanatory بڼې تحليل او تجزيه کړي دی او نوې فرضيې او نظريې يې وړاندې کړې دي. د مقالې روش استنباطی (استنتاجي) يا inductive دی.

په دې مقاله کې لومړی په دې بحث شوی، چې د نړيوال سياست پوهان د سترو قدرتونو سياسي نوسان په اړه کوم نظريات لري. د رياليزم، ليبراليزم او کنســټرکټيويزم مکتبونه د ســترو قدرتونو او کوچنيو هېوادونو تر منځ اړيکو په هکله څه وايي. د مقالې په دويمه برخه کې پر افغانســتان د ســترو قدرتونو د سياسي نوسان اغېزې د قضيې په توګه تر مطالعه لاندې نيول شوې دي. د مقالې په درېيمه برخه کې د سترو قدرتونو پر سياسي نو سان د انقلابي خوځښتونو د مبارزې پر اغېز بحث شوی دی، دلته يوځل بيا د افغانســتان قضــيه د نمونې په توګه وړاندې کېږي په دې بحث کېږي، چې څنګه په افغانســتان کې د خپلواکۍ د مبارزينو مقاومت وکولای شــوای، چې د ســترو قدرتونو اوږد مهاله ســتراتيژي ته بدلون ورکړي. همدارنګه د مقالې په وروســتې برخه کې په افغانســتان کې د حاکم نظام سره د ســترو قدرتونو سياسي اړيکو باندې بحث شوی دی.

**د سترو قدرتونو سياسي نوسان په اړه د نړيوالو اړيکو تيوري**

د نړۍ په معاصر سياسي تاريخ کې ډېری وخت سترو قدرتونو سياسي ليدلوري کې بدلون پر کوچنيو هېوادونو مثبت او يا منفي اغېزې درلودې. د نړيوالو اړيکو تيوريستانو د سترو قدرتونو سياسي نوسان او پر کوچنيو هېوادونو يې اغېزې تر بحث لاندې نيولې دي. د نړيوالو اړيکو علماوو ټولنيزو واقعيتونو ته په کتو د سترو او کوچنيو هېوادونو تر منځ د اړيکو په هکله نظريات وړاندې کړي دي. په دې ليکنه پر کوچنيو هېوادونو د سترو قدرتونو اړوند د نړيوالو اړيکو د بېلابېلو مکتبونو د نظرياتو خلاصه شريکېږي، بيا د مقالې په متن کې د افغانستان په قضيه کې پر تطبيق کېدونکو نظرياتو بحث کېږي.

**رياليزم (Realism)**

معاصرو نړيوالو اړيکو کې ښــاغلي ايمانو يل والرســتين ملتونه په لويو قدرتونو، منځني قدرتونو او کوچني، دولتونو طبقه بندي کړي دي. والرســتين اســتدلال کوي، چې د ســترو قدرتونو اقتصــادي انحصــار او سـياسي جوړښـتونه پر وړو دولتونو باندې اغېزه کوي (Wallerstein, 2004). اندړې

ګونډر فرانک بیا د انحصار تیوري په ا ساس ا ستدلال کوي چې کوچني هېوادونه په اقتصادي توګه په لویو قدرتونو پورې تړلي پاتې کېږي، چې له امله یې د دوی د کورني پالیسۍ انتخابونه محدود وي.

په کلاسیکه ریالېزم Classical Realism کې چې  د هیوادونو تر منځ اړیکې د قدرت او ملي ګټو پر اساس تشریح کېږي ، ستر قدرتونه د خپلو ګټو او امنیت لپاره کوچني هېوادونه تر خپل اغېزې لاندې راولي او ملي ګټو په نظر کې نیولو سره خپل چلند بدلوي. هانس مورګنتاو استدلال کوي چې کوچني هېوادونه باید ستر قدرتونو د بدلیدونکي نوسان او ډاینامیک سیاستونو سره ځان عیار کړي ترڅو خپله بقاء تضمین کړي. (Morgenthau, 1973)

په نوي ریالېزم Neorealism کې بیا کینېټ والټز استدلال کوي، چې نړیوال سیستم پر انارشي ولاړ دی. کوچني هېوادونه د سترو قدرتونو د ځواک د جوړښت (یو قطبي، دوه قطبي، یا څو قطبي) پربنسټ د خپلو هېوادونو سیاسي پالیسي تنظیموي  (Waltz, 2018).

همدارنګه قدرت د توازن د نظرېې پر بنسټ کوچني هېوادونه د دې لپاره چې توازن وساتي او د یوه قدرت له خوا پرې د  بشپړ  تسلط مخه ونیول شي، له ځینو سترو قدرتونو سره یوځای کېږي یا ځینو نورو سره مخالفت کوي. همدارنګه ستیون ډیویډ بیا استدلال کوي، چې په کوچنیو هېوادونو کې د نظام زعیم، بهرني او کورني ګواښونه توازن کوي او ډېری وخت د ایډیالوژۍ پرځای د بقاء پربنسټ له سترو قدرتونو سره ائتلافونه کوي (David, 1991).

**لیبرالېزم (Liberalism)**

د لیبرالېزم نظریه پردازان بیا د نړیوالو بنسټونو او مؤسسو همکاري ته ځانګړې پاملرنه کوي. دوی ا ستدلال کوي، چې د سترو قدرتونو سیاسي نو سانات کولای شي کوچنیو هېوادونو ته د ډیپلوماسي او نړیوالې همکارۍ نوي فرصتونه  ورکړي. کیو هان او نای په یوې مقالې کې استدلال کوي چې اقتصادي، سیاسي او بنسټیزې اړیکې د کوچنیو هېوادونو د پالیسیو په جوړولو کې د یوازې نظامي ځواک په پرتله ډېر اغېزمن دی.(Keohane & Nye Jr, 1973).

د یموکراټیک  سولې تیوري Democratic Peace Theory ملاتړي  بیا وړاندیز کوي چې د لویو قوتونو اغېز ممکن په کوچنیو هېوادونو کې د ډیموکراټیکو بدلونونو لامل شي. همدارنګه په لیبرالېزم کې د بنسټپالنې  Institutionalism د تیوري ملاتړي بیا  نړیوالو بنسټونو (لکه  ملګري ملتونه، د پیسو نړیوال صندق او نړیوال بانک) رول په ګوته کوي چې  د مرستې، سوداګرۍ، او حکومتدارۍ ماډلونو له لارې د کوچنیو هېوادونو د کورنیو پالیسیو په جوړولو کې مرسته کوي.

**کنسټراکټیویزم (Constructivism)**

جوړښتپالنې یا کنسټراکټیویزم Constructivism نظریې ملاتړو ته ټولنیز جوړښتونه، هویتونه او نورمونه اهمیت لري نو ځکه د دې نظریې لرونکي د سترو قدرتونو او کوچنیو هېوادونو تر منځ اړیکې او تعاملات د هویتونو او مفاهیمو له لینز څخه ګوري. الکساندر وینډټ سپارښتنه همدا دا ده، چې د لویو قدرتونو نفوذ د کوچنیو دولتونو هویت، نورمونه او کورني ایډیالوژي جوړوي. (Guzzini & Leander, 2005) . جوزف نای بیا په دې بحث کوي چې څنګه کلتور، او ایډیالوژیکي نفوذ د بیلګې په توګه ( د ډیموکراسي وده، مذهبي نفوذ او رسنۍ) په کورني بدلون اغېزه کوي. (Nye, 1990) پاس ذکر شوې تیوري، د نړیوالو اړیکو په ساحه کې د سترو قدرتونو او کوچنیو هېوادونو تر منځ د اړیکو د پیچلتیاوو تحلیل کې مرسته کوي. لیکوال د افغانستان د قضیې مطالعې کې د ځینو تیوریو تطبیق باندې بحث کوي. همدارنګه لیکوال د افغان ملت له خوا د خپلو ارزښتونو لپاره د بې ساري مبارزې له مطالعې څخه نړیوالو اړیکو کې د یوې نوې نظریې وړاندیز کوي. هغه نظریه دا ده: څرنګه چې د سترو قدرتونو سیاسي نوسان پر کوچنیو هېوادونو اغېز لري، همدارنګه په کوچنیو هېوادونو کې د ملي او مذهبي خوځښتونو دوامداره مقاومت هم ستر قدرتونه سیاسي نوسان ته مجبورولي شي.

**پر افغانستان د سترو قدرتونود سیاسي نوسانونو اغېز**

**پر افغانستان د شوروي اتحاد د سیاسي نوسان اغېز**

دافغانستان جغرافیوي موقعیت له پېړیو څخه د سترو قدرتونو د پاملرنې وړ مرکز پاتې شوی دی. په ۱۹ مې پېړۍ کې افغانستان د نړۍ د دوه سترو قدرتونو برطانوي هند او تزاري روسیې د سیالۍ او نفوذ مرکز وو. افغانستان د دواړو سترو قدرتونو د جلاوالي لپاره حائلي دولت یا (buffer state) رول درلود. بیا د غرب او پخواني شوروي اتحاد تر منځ د سړې جګړې په دوران کې هم افغانستان د دواړو سترو قدرتونو لپاره ارزښت لاره. په اصل کې د غربي او شرقي بلاکونو تر منځ د سړې جګړې وروستۍ ګرمه جګړه هم په افغانستان کې ترسره شوه. شوروي اتحاد پر افغانستان د نفوذ د لرلو په موخه په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې د بشري ظرفیت د روزنې په برخه کې پانګونه وکړه. دې پانګونې له روسانو سره مرسته وکړه، چې افغاني ټولنه کې هم د کمونېزم د ګوند رامنځته کېدو ته زمینه برابره کړي او په پوځ کې د روزل شویو ظرفیتونو په مرسته وکولای شي د کودتا په مټ د افغانستان نظام کې ریښه پیدا کړي.

په افغانستان کې د سوسیالیستي حکومت د نسکوریدو له وېرې شوروي اتحاد عملاً په ۱۹۷۹ کال کې د ډیسمبر د میاشتې په ۲۷ افغانستان اشغال کړ. د روسانو دا کار د غربي بلاک له سخت مخالفت سره مخامخ شو. غربي بلاک د شوروي اتحاد په ملاتړ د رامنځته شوي رژیم د له منځه وړلو په موخه افغان

مجاهدينو سره نظامي، سياسي او اقتصادي مرستې وکړې. بالاخره د امريکا په مشرۍ غرب او شوروي اتحاد تر منځ سيالۍ کې شوروي اتحاد اړ کړای شو، چې د افغانستان په هکله په خپل سياست کې بدلون راولي. شوروي اتحاد په ۱۹۸۸ کال کې د جينوا تړون د لاسليک سره له افغانستان څخه د خپلو سرتيرو د بشپړ ايستلو اعلان وکړ. د شوروي اتحاد په افغانستان کې خپل لاسپوڅې سوسياليستي حکومت څکه يوازې پرېښود چې له يوه اړخه په مسکو کې ځينې ځواکمنو خلکو پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل يوه تېروتنه ګڼله او له بله اړخه نور نو پخوانی شوروي اتحاد له هېواده بهر د سيوسياليستي حکومتونو اقتصادي، سياسي او نظامي ملاتړ توان نه درلود (Pratt, 1995).

کله چې د پخواني شوروي اتحاد ځواکونه له افغانستان څخه ووتل، د ډاکټر نجيب الله په مشرۍ سوسياليستي افغان حکومت دا حقيقت درک کړ چې د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې د افغانانو حساسيت به ډېر ژر د دوی د زوال لامل وګرځي. له خارج څخه را وارده شوې بهرنۍ ايډيالوژۍ پلي کول په داسې ملت، چې د هغوی له کلتور او مذهبي ارزښتونو سره همغږې نه وي، بقاء نه لري. له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو له وتلو وروسته، افغان حکومت په خپلو پاليسيو کې بدلونونه راوستل، اساسي قانون يې بدل کړ، د حکومت په چوکاټ کې اسلامي ارزښتونه يې څه نا څه ځای پر ځای کړل تر څو ملت قانع کړي؛ خو په دې دوران کې له حکومت څخه ورخ اوبو وړې و. د ډاکټر نجيب الله په مشرۍ سوسيالستي جمهوريت د درېيو کلونو مقاومت وروسته سقوط شو.

**د افغانستان په هکله د غربي بلاک سياسي ليد لوری**

د سړې جګړې له پای ته رسيدو سره سم، د دوو مشهورو ليکوالانو نظرياتو د اسلام او افغانستان په اړه د غرب پاليسي باندې تاثيرات درلودل. لومړی فرانسس فوکوياما دی، فوکوياما د ( د تاريخ خاتمه او وروستی سړی ) يا The end of history and the last man مقالې کې يوه داسې نظريه وړاندې کړه، چې په اساس به يې د غرب لېبرال ډيموکراسي نظريه نړيواله کېږي، دټولې نړۍ هېوادونه د پرمختګ او سياسي ثبات لپاره دې ته اړتيا لري، چې د غرب ماډل لېبراليزم خپل کړي. (Fukuyama, 1989) همدارنګه په ۱۹۹۰ مې لسيزې کې بيا د پوهنتون استاد ښاغلي هانتينګټن د تمدنونو د ټکر يا Clash of Civilization تر سرليک لاندې مقاله کې استدلال وکړ، چې راتلونکو کې به جګړې تمدنونو تر منځ وي. غربي تمدن دښمن اسلامي تمدن دی. غرب به له اسلام سره ښکر پر ښکر کېږي. (Huntington, 1993)

له يوې خوا د نړۍ په کچه نوې نظريې راڅرګنديدې؛ له بل پلوه افغانستان کې د چوکۍ او مقام لپاره سخته سيالي روانه وه. افغانستان کې بېلابېل تنظيمونه له نړيوالو پلانونو څخه نا خبره وو. په افغانستان کې

د روسانو په ملاتړ د ډاکتر نجيب الله حکومت تر سقوط وروسته د سوسياليستي رژيم مخالفينو ونه شو کولای چې يو باثباته او افغان ملت ته ټولمنلی حکومت جوړ کړي، ټولنيز عدالت تأمين کړي او خلکو ته خدمات وړاندې کړي. د افغانستان سياسي قدرت پر سر د اختلاف له کبله خونړۍ کورنۍ جګړې پيل شوې. غرب او د افغانستان ګاونډيان هم په افغانستان کې کورنۍ جګړې ته خوشحاله ول. سيمې او امريکا يو باثباته او قوي افغانستان نه غوښت.

د سي ای اې پخواني مسؤول او د امريکا د پخواني ولسمشر بارک اوباما مشاور ښاغلي ريډال په خپل کتاب what we won کې ليکلي دي، چې د افغانانو د وينو د قربانيو له کبله نه يوازې شوروي اتحاد په افغانستان کې مات شو. بلکې شرقي اروپا هم د دوی د قربانيو له کبله د کمونيزم له کنټرول څخه آزاده شوه، خو افغانانو ته د شوروي اتحاد څخه آزادي د يوې بلې اوږدې کورنۍ جګړې او لا وينې تويدنې باعث وګرځيده (Riedel, 2014).

**د اسلامي نظام په جوړښت کې د افغانانو ناکامي**

لکه څنګه چې يادونه وشوه، د افغانستان او نورې اسلامي نړۍ لپاره د غرب پلان دا وو، چې هلته د لېبرال - ډيموکراسي سياسي او د کپيټلېزم يا سرمايه داري اقتصادي نظامونه وتپل شي او بيا تقويه شي؛ خو غربي نړۍ د لېبرالېزم او کپيټليزم پر وړاندې يو ګواښ ته متوجه وو، چې هغه ګواښ اسلامي نظام و. غرب په هېڅ صورت هم نه غوښتل د نړۍ په کومه برخه کې اسلامي نظام برپالی شي. غرب د اسلام له ټولنيز نظام سره ډېر مشکل نه لري؛ خو غربي نړۍ ته د اسلام سياسي او اقتصادي نظام په هېڅ صورت هم د زغم وړ نه دی. همدا علت وو، چې د کمونېزم د ماتې سره سم پکار دا وه، چې د شمالي اتلانتيک سازمان NATO چې د کمونېزم د ګوښ د مخنيوي په موخه جوړ شوی وو، بايد منحل شوی وای؛ خو دا کار ځکه ونه شو، چې د غرب په آند او وينا د دوی راتلونکی بل دښمن به هغه څوک وي، چې په اسلامي هېوادونو کې د اسلام سياسي نظام پلي کوي. (Burton, 2018)

کله چې په کال ۱۹۸۹- ز کې روسان له افغانستان څخه ووتل، د امريکامتحده ايالاتو نه غوښتل چې د تفاهم او سولې له لارې په افغانستان کې نظام تغير وخوري. که څه هم په ظاهره دوی ځانونه د تفاهم او مصالحې طرفداران ښکاره کول، خو په اصل کې دوی نه افغانستان کې اسلامي نظام غوښتل او نه يې هم د مسلمانانو تر منځ سولې او خپل منځي تفاهم راومنځ ته کولو ته کومه ژمنتيا درلوده. غرب له تاريخي پلوه د مسلمانانو د اتحاد او پر واقعي اسلامي ارزښتونو ولاړ نظام مخالف دی. جوزف مساد په خپل کتاب Islam in Liberalism کې غربي پاليسي جوړونکو ته وړانديز کړی دی، چې ((موږ بايد د اسلامي نړۍ ووېشو، د هغوی اخلاقي يوالي مات کړو، د هغوی سياسي او قومي جوړښتونه له ويش

ځخه گټه پورته کړو، موږ باید اسلامي نړۍ کې د بېلابېلو نژادونو تر منځ توپیرونه په داسې ډول زیات کړو، چې ملتپال احساسات زیات شي او اسلامي ورورولي پای ومومي)) . (Massad, 2020)

په ۱۹۸۰ لسیزې کې د امریکا لپاره د افغانستان ځانگړی استازی پیټر ټامسن، د افغانستان په اړه په خپل کتاب کې دې مسئلې ته هم اشاره کړې ده. هغه لیکلي دي، چې په ظاهره موږ په رسنیو او رسمي اعلامیو کې په افغانستان کې د تفاهم او سولې له لارې د نظام بدلون ملاتړ کاوه؛ خو په پټه مو د پاکستان له استخباراتو ای اس ای سره یوځای د جگړې ملاتړ کول او غوښتنه مو دا وه، چې د افغانستان د وخت حکومت په نظامي ډول سقوط وخوري (Tomsen, 2017).

کله چې په افغانستان کې سوسیالستي حکومت سقوط شو، نو د روسانو پر وړاندې جنگېدلیو بېلابېلو افغان تنظیمونو، ونه شو کړای یو باثباته او ټولمنلی نظام جوړ کړي. د بېلابېلو تنظیمونو تر منځ په کابل او د افغانستان اطرافو کې د خونړیو جگړو سلسله پیل شوه. هغه وسلې او نظامي تجهیزات چې سترو قدرتونو لکه روس او امریکا د خپلو سیالانو د ځپلو لپاره افغانستان ته استولې وې، د پخواني شوروي اتحاد له وتلو وروسته هماغه تجهیزات او وسلې د افغانانو بېلابېلو ډلو په خپلو منځو کې د یوه او بل د محوه کولو لپاره استعمال کړلې. اوږدې کورنۍ جگړې او جنگي جنایتونو، نه یوازې افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د اسلامي نظام غوښتونکي د اسلامي نظام له ملاتړ ځخه زړه ماتې کړل، بلکه دې پروسې د غرب د لیبرالېزم نظریې تطبیق ته هم ښه زمینه برابره کړه. که څه هم په ۱۹۹۶ کال کې د طالبانو تحریک وکولای شول، چې کورنۍ جگړې ته تقریباً د پای ټکی کېږدي؛ خو دوی هم په افغانستان کې د یوه مثالي او نمونوي حکومت په جوړېدولو کې پاتې راغلل.

**په افغانستان کې دویمه ډیموکراسي**

کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۱ مه نیټه د امریکاپه متحده ایالاتو کې په ورلډ ټریډ سنټر باندې بریدونه وشول. نو د ۲۰۰۱ کال کې له دې ( ۹/۱۱ ) پیښې وروسته د امریکامتحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي داسې ترتیب شوه، چې په افغانستان او منځني ختیځ کې به د لیبرال ډیموکراسۍ ارزښت د برچې په زور پلي کوي. د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې له پېښې ځخه لا د مخه پلان وو، چې افغانستان کې اسلامي امارت نظام ړنگ او پرځای یې یو لیبرال ډیموکراتیک سیستم راولې. د امریکا د وخت د ولسمشر جورج ډبلیو بوش دکتورین دا و، چې نه یوازې افغانستان بلکه ټول د منځني ختیځ هېوادونه باید د غربي لیبرال ډیموکراسي نظامونه خپل کړي.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې نیټې په پیښه کې اسلامي امارت په هېڅ صورت ښکېل نه و، حتی د الوتکو په مټ پر امریکایي ودانیو ۱۹ بریدگرو کې هېڅ یو یې هم افغان نه وو. دا موضوع د ۹/۱۱ په اړه

تر ټولو معتبر سند د ۹/۱۱ کمیسیون رپوټ 9/11 Commission Report کې هم لیکل شوی دی. د دې رپوټ په اساس نه طالبان او نه هم کوم افغان د ۹/۱۱ په پېښه کې ښکېل وو. طالبانو د ۹/۱۱ پېښه وغندله او امریکامتحده ایالاتو سره يې د خواخوږۍ اعلامیه هم خپره کړه او د قضیې د هر اړخیزې پلټنې سره يې د همکارۍ وړاندیز هم وکړ(Kean & Hamilton, 2004).

خو دا چې د ستر قدرت (امریکامتحده ایالاتو) دکتورین دا و، چې په افغانستان کې باید نظام لېبرال سیستم ته بدلون ومومي؛ نو ځکه يې د نړیوالو حقوقو او ملګرو ملتونو د منشور خلاف افغانستان باندې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷ مې نیټې برید وکړ او دا هیواد يې اشغال کړ. دلته يې د غرب ملاتړی نظام پر افغانانو مسلط کړ. د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې کانډولیزا رایس په وینا دوی (د امریکادمتحده ایالاتو د وخت کابینه) ډاډه وو، چې متحده ایالات به حتمي په هر صورت کې پر افغانستان برید کوي. هغه همدارنګه وايي چې: "موږ ټول پوهیدو، چې زموږ د بریدونو پایله به د طالبانو پر وړاندې د جګړې اعلان او په افغانستان یرغل او هلته د نظام بدلون وي" .(Rice, 2011)

د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش په خپل دکتورین کې "د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه" او پر افغانستان د امریکا یرغل "د بشریت په تاریخ کې یوه ستره کارنامه ګڼله، پر افغانستان يې تیری د افغانستان ازادي" ګڼله. د امریکا د متحده ایالاتو پر افغانستان د یرغل یو هدف دا وو چې د افغانانو د مذهب، دودونو او کلتور پر خلاف د لویدیځ د واکمن ژوند طرزالعمل پلي کړي . د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۸مه، د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع پخواني وزیر په څرګنده توګه اعلان وکړ چې "موږ یو انتخاب لرو، یا د خپل ژوند کولو لاره بدله کړو، کوم چې د منلو وړ نه ده، یا د دوی (مسلمانانو او افغانانو) د ژوند کولو لاره بدله کړو، او موږ وروستی انتخاب لرو.

که څه هم په ۱۹۶۰ مې لسیزې کې د افغانستان پادشاه محمد ظاهر شاه هم د ډیموکراسي له ځینو اصولو سره موافقه وښوده، د لومړي ځل لپاره، صدراعظم د غیرشاهي کورنۍ څخه وټاکل شو، پارلمان رامنځته شو. د خلکو استازي د آزادو ټاکنو په پایله کې د قانون جوړونکي ارګان غړي شول. په ۱۹۶۴ کال کې نوی اساسي قانون تصویب شو، چې په کې د بیان آزادي، سیاسي ګوندونو د فعالیت آزادي او... ځای پرځای شول. د محمد ظاهر شاه د ډیموکراسي لسیزې لس کاله دوام وکړ. د ۲۰۰۴ – ز کال کې جوړ اساسي قانون تقریباً د ۱۹۶۴ – ز کال د اساسي قانون کاپي وه. له ۲۰۰۱ – ز کال راوروسته ډیموکراسي او د ۱۹۶۰ لسیزې ډیموکراسي تر منځ توپیر دا و، چې له ۲۰۰۱ – ز کال راوروسته ډیموکراسي د برچې په زور پر افغان ملت وتپل شوه.

غرب کې میشت افغان لیبرالیستان، د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه ملاتړ او په افغانستان کې موجوده جنگسالارانو ته د بوش د دکتورین تطبیق یو طلایي چانس وو. دوی منسجم شول او د غربي مفکورې پر مټ د حکومت د جوړیدو او د دې حکومت برخه گرځیدو لپاره یې عملي گامونه واخېستل. دا چې د امریکا په مشرۍ غرب هم د دوی د خوښې راتلونکي حکومت ته د مشروعیت ورکړې ته اړتیا درلوده، نو په ۲۰۰۲ –ز کال کې یې په جرمني کې د بون نړیوال کنفرانس جوړ کړ.

پلان دا و، چې د محمد ظاهرشاه د حکومت په څېر ډیموکراسي پر افغانستان بیا حاکمه شي. بون کنفرانس کې د حامد کرزي په مشرۍ د یوه انتقالي حکومت په جوړیدو موافقه وشوه. له دې سره افغانستان مستقیماً د غربي بلاک تر حمایت او حاکمیت لاندې راغی. په افغانستان کې د انتقالي حکومت ملاتړي اکثراً د لیبرالېزم د هغې نظریې لارویان وو، چې د نړیوال بنسټونو او مؤسسو همکاري ته ځانگړې پاملرنه کوي. دوی په دې باوري دي، چې د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات کولای شي د افغانستان په څېر کوچنی هېواد ته د ډیپلوماسي او نړیوالې همکارۍ نوي فرصتونه ورکړي.

**د سترو قدرتونو پر سیاسي نوساناتو د انقلابي خوځښتونو د مبارزې اغېز**

**۲۰۲۱ کال کې د افغانستان د جمهوري حکومت د سقوط لامل**

د ۲۰۲۱ کال د اگست د میاشتي په ۱۵مه، په افغانستان کې سیاسي نظام بدل شو. د غرب په ملاتړ جوړ شـوی جمهوري دولت سـقوط وکړ او واک یوځل بیا په ۲۰۰۱ کال له واکه لرې کړای شـوي اسـلامي امارت ترلاسه کړ. د لویدیځ په ملاتړ جوړ شوي یو ډول نیمه ډیموکراسي نظام ځای اسلامي امارت تر عنوان لاندې اسلامي نظام ونیو. د دې بدلون په هکله ساده توضیحات وړاندې کېدل: نړیوالو رسنیو هڅې کولې چې د جمهوري نظام ړنگیدل داسې توجیه کړي، چې ملامت په کې یوازې افراد وښـودل شي. د افغانســتان په چارو کې په اصــطلاح ځینې کار پوهانو د لیبرالېزم د له منځه تلو او د امریکا لاسپوځي حکومت د ړنگیدو تور په ولسمشر غني او کابینې یې ورواچاو.

د امریکا د متحده ایالاتو پخواني ولسمشـــر جوبایډن بیا په خپلې یوې وینا کې د افغانستان پخواني ولسمشـــر اشرف غني د طالبانو پر وړاندې د نه جنگیدو په تور تورن کړ او دا یې د نظام د سقوط علت وگاڼه حال دا چې د امریکا او د ناټو د هوایي، ځمکني او سیاسي ملاتړ تر څنگ د امریکا له خوا تېل شوي حکومت ونه شو کولای چې د اشغال په شلو کلونو کې د ملیاردونو ډالرو د مصـــرف او د پنځه شپیته زره د جمهوریتي امنیتي ځواکونو د تلفاتو زغملو سره سره د جگړې اړخ بـــدل کړي، نو دا به بیا څنگه ممکنه وي، چې د امریکامتحده ایالاتو په څېر د ستر قدرت د ملاتړ پرته دې بیا هغه جگړه چې

په افغانستان کې د سترو قدرتونو په شتون او ملاتړ کې ونه ګټل شوه، یوازې د یوه لاسپوڅي نظام مشر وګټي.

لیکوال استدلال کوي چې په افغانستان کې د "لیبرال ډیموکراسی" سیستم د ناکامی علتونو کې اصلي علت یې پر افغانانو د سترو قدرتو له خوا په زور او جبر د داسې یو تحمیل شوي نظام تپل وو، چې منشاء او مبنا یې د غرب زیږنده، داسې یو سیستم او فلسفه وه ، چې د افغانانو له مذهب، کلتور او ټولنیز رسم او عنعناتو سره په ټکر کې وه، خو سترو قدرتونو پر کوچنیو هیوادونو د خپل نفوذ او سیاسي فوقیت د پلي کولو په موخه د برچې په مټ تپلی و. که څه هم د څه مودې لپاره د غرب تپل شوی نظام بقاء وکړله؛ خو وروسته بیا ړنګ شو. د نورو دلیلونو ترڅنګ د نظام د ړنګیدو او د طالبانو د راپورته کیدو او بقا لپاره یو له مهمو دلیلونو څخه د بهرنیو یرغلونو پر وړاندې د افغانانو محافظه کاره او د نه زغم طبیعت دی. د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې، هغه خلک چې د بهرنیو یرغلونو پر وړاندې یې مقاومت کړی دی د افغانانو د لوی اکثریت څخه یې ملاتړ ترلاسه کړی او بریالي شوي دي. د افغانستان کلیوالي اوسیدونکو په ۱۹مه او ۲۰مه پیړۍ کې د برتانوي یرغلونو پر وړاندې، په ۲۰مه پیړۍ کې د شوروي اتحاد پر وړاندې او په ۲۱مه پیړۍ کې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ایتلاف په وړاندې مقاومت کې ونډه واخیسته.

**د مذهبي او ملي خوځښتونو مقاومت**

څرنګه چې یادونه وشوه له ۲۰۰۱ کال څخه راوروسته ، د افغانستان لپاره د امریکا په مشرۍ د غرب سترو قدرتونو د خپل نظامي قوت، سیاسي نفوذ او اقتصادي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د افغان لبیرالیستانو په مټ په افغانستان کې د لیبرال- ډیموکراسي نظریه یې تطبیق پیل کړ. د امریکا په مشرۍ د غرب قدرتونو، چې دوی ورته Social Engineering یا ټولنیز جوړښت پروسې یعنې افغان ملت د غرب مفکورې ته اړولو پروسه پرمخ بوتله، خو دا چې د امریکا د دفاع د پخواني وزیر رمسفلډ په اساس دوی لپاره د دوی د ژوند د طریقې او لارې بدلول د منلو وړ نه وو، نو همدا سې د لیبرال افغانانو پرته نورو مسلمانو افغانانو ته هم د دوی د مذهبي ارزښتونو، کلتور دودونو او تاریخي ارزښتونو لاره او طریقه بدلون د زغم وړ نه وه.

افغانستان له تاریخي پلوه آزاد اسلامي هیواد پاتې شوی دی. د پیو Pew څېړنې پر اساس د افغانستان د اسلامي نړۍ یو له هغو هیوادونو دی، چې ۹۹ فیصده خلک یې د دې غوښتونکي دي، چې په هیواد کې دې اسلامي شریعت تطبیق شي. هغه ملت چې تقریباً ټول خلک یې د شرعي نظام د پلي کیدو،

غو ښتونکي وي، څنګه ممکنه ده چې هلته د لیبرالېزم د ارزښتونه په مټ جوړ شوی نظام بریالی شي. (Lugo et al., 2013)

د افغانستان تاریخ د دې شاهد دی، چې د غربي قدرت څخه مخکې نورو ستر قدرتونه هم لا د مخه د افغانانو د مذهبي ارزښتونو او د ژوند د دودیزې لارې د بدلون هڅې کړې دي؛ خو بریالي شوي نه دي، ځکه افغان ملت بهرني یرغلګر نه شي زغملی. الکس سټریک په خپل کتاب An Enemy We Created کې لیکلي، چې په ۲۰۰٦ ز کال کې، کله چې په افغانستان کې جګړه پیل شوه، موږ هر هغه چا ته چې زموږ پر وړاندې یې مقاومت کاوه، (طالبان) ویل، خو په حقیقت کې دوی تول طالبان نه وو. دوی یوازې د ټولنې عادي خلک وو، چې تل یې د بهرنیانو پر وړاندې د خپلې خاورې دفاع کړې ده او بیا به یې هم کوي(Van Linschoten & Kuehn, 2012).

سیاسي او فرهنګي مبارزې ترڅنګ په افغانستان کې ځینو وسله والو ډلو د جګړې او مقاومت په مټ د ولسمشر جورج ډبلیو بوش دکتورین وننګول. د غرب په مشرۍ د امریکامتحده ایالاتو د خپلې نظریې د تطبیق په موخه نظامي تګلاره غوره کړه. د امریکامتحده ایالاتو د مقاومت د نظامي ځپلو په موخه د ۲۰۰٦ م کال په پای کې له ۲۰۰۰۰ شل زرو څخه د ۲۰۰۷ کال تر پای پورې ۲۵۰۰۰ پنځه ویشت زرو ته د پوځ تعداد لوړ کړ. په ۲۰۰۸ م کال په نیمایي کې د امریکایي سرتېرو شمیر افغانستان کې ۳۲۰۰۰ دوه دیرش زره کسانو ته لوړ شو(Gates, 2014).

د وسله وال مقاومت له کبله په افغانستان کې د د سیکولر لیبرال ډیموکراسۍ د پلي کولو تجربه له جدي ګواښ سره مخامخ وه. طالبانو د افغانستان په جنوب کې پراخې سیمې تر خپل کنترول لاندې راوستلې. په افغانستان کې د ائتلافي ځواکونو د مشر جنرال جوزف ډنفورډ د سیاسي مشاور په کارتېر مالکیشن په خپل کتاب کې د دې یادونه کړې ده، چې په ۲۰۰٦ کال کې د افغانستان په جنوب کې جګړه د وسله والو طالبانو په ګټه په مخ روانه وه، "نه کاناډایي ځواکونو، نه انګلیسي، نه امریکایي او نه هم افغان حکومت ځواکونو د ملا دادالله ( د افغانستان په جنوب کې د طالبانو قوماندان) معادل پوځي او قاطع قوماندان درلود.(Malkasian, 2021)

په کابل کې د امریکا پخواني سفیر نیومن واشنګټن ته راپور ورکړ، "موږ په افغانستان کې نه بریالي کیږو ؛ که څه هم موږ له ماتې څخه لا لرې یو خو حالات ښه نه دي او لا هم ممکنه ده، چې جګړه وګټو." سفیر له واشنګټن څخه وغوښتل چې د افغان اردو او پولیسو لپاره نور تجهیزات واستوي. (Tanner, 2009)

د امریکا د پوځ شــمېره په ۲۰۰٦ کې له ۲٦۰۰۰ څخه په ۲۰۰۸ کې ٦۸۰۰۰ تنو ته لوړه شــوه. امریکا د افغـان اردو سره یوځـای ګـډ عملیـات پیـل کړل، د دې عملیـاتو اصــلي هـدف دا و، چې اغېزمنې حکومتدارۍ وده وکړي، د هېواد د خپلواکۍ لپاره راپورته شـوي وسـله وال خوځښــتونه له منځه یوړل شي او "لیبرال ډیموکراسي" سیاسي سیستم چې د بوش د دکتورین برخه وه، له سقوط څخه وژغورل شي. د یادونې وړ ده، په افغانستان کې د امریکایي ستریرو د شمېرې په هکله د د امریکامتحده ایالاتو د دفاع وزیر رابرټ ګېټس، چې د خپل کتاب ډیوټي Duty کې ذکر کړي د ښاغلي میلر له شمېرې سره توپیر لري. ممکن مېلر د قراردادي سرتیري هم شمېرې کې اضافه کړي وي (Miller, 2013).

امنیتي ګواښــونو ته د ځواب ویلو لپاره د امریکا لاســپوڅي حکومت، لومړی د ســولې شــورا په نامه د صبغت الله مجددي په مشرۍ یوه اداره رامنځته کړه، تر څو د وسله وال مقاومت مشران له جګړې د مادي امتیازاتو په بدل کې حکومت ته تسلیم کړي. کله چې دې پروسې نتیجه ورنه کړه او ناکامه شوه، نو د بیا ځل لپاره کله چې د امریکا په رهبرۍ کې بدلون راغی توقع دا کیده، چې د امریکا په څېر ســتر قدرت به د ا سلام سره ټکر ته نور د پای ټکی کېږدي. په ۲۰۰۹ ز کال په مصر کې د بارک اوباما د وینا هرکلی وشـو. اوباما د بوش د دکتورین سره په ټکر کې د طالبانو سره مذاکرات او خبرو ممنوعیت مات کړ. د افغانســتان د یرغل څخه وروسـته د لومړي ځل لپاره د طالبانو له اسـتازو سره د ملګرو ملتونو او جرمني په منځګړیتوب د ســولې لپاره ابتدایي پټې خبرې وشــوې (Dobbins & Malkasian, 2015)

د بارک اوباما د ولسمشرۍ په دوران کې د افغانستان په هکله د امریکا د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي د افغانســتان اړوند د تغیر په حال کې وه. په افغانســتان کې د امریکا ســفیر ایکنبیري په پټو شــفرونو واشــنګټن ته اســتولي وو، ویلي وو : "موږ په افغانســتان کې نه بریالي کیږو" د جګړې اړخ بارک اوباما دې ته اړ کړ، چې له طالبانو سره چې په افغانستان کې قوي وسله وال ځواک و، مذاکرات پیل کړي؛ خو د اوباما د مذکراتو ترڅنګ پوځي فشار ته هم دوام ورکړ، چې څندان نتیجه یې ورنــه کړه. (Ullah et al., 2020).

**په افغانستان کې د لیبرال - ډیموکراسي زوال**

کله چې ټرمپ د امریکا ولسمشر شو، د امریکامتحده ایالاتوپه څېر ستر قدرت بهرني سیاست کې ژور بدلون رامنځته شو. د بوش له خوا عراق او افغانستان کې د ډیموکراسي پلې کولو دکتورین ناکام شول. ډونلډ ټرمپ او ټیم یې د لیبرالېزم پرځای د ریالېزم او کنســټرکټویزم نظریاتو څخه متاثره دی. ډونلډ ټرمپ نور نه غوښــتل چې هر کال د امریکامتحده ایالات په افغانســتان کې ۵۰ میلیارده ډالر مصرــف

ولري. د افغانستان د سولې د بریا لپاره یې افغاني الاصل امریکایي جیوستراتجست زلمی خلیلزاد د افغانستان د سولې ځانګړی استازی وټاکه.

خلیلزاد نږدې ۱۸ میاشتې په دوحه کې د طالبانو له استازو سره د مستقیمو خبرو اترو ۱۱ لړۍ ترسره کړې وې. بالاخره د نږدې ۱۹ کلونو جګړې او لس کلونو پر له پسې خبرو او مذاکراتو وروسته د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۲۹ مه یې اسلامي امارت سره د سرتیرو د خروج تړون امضاء کړ. د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۲۹مه د امریکا او اسلامي امارت تر منځ د دوحې د تړون په درشل کې، د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو له ۲۰۰۱ کال را وروسته د افغانستان په هکله د خپل هېواد د سیاسي بدلون په هکله وضاحت ورکړ، پامپیو وویل، چې نور د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې د ډیموکراسۍ ارزښتونه او حکومتوالۍ سیستم نه تحمیلوي. د نظام جوړښت د افغانانو خپل کار دی(Pompeo, 2020).

که څه هم د نړیوالو اړیکو د نظریاتو پر ا ساس د سترو هېوادونو سیاسي نو سان د کوچنیو هېوادونو پر کورنیو سیاسي تحولاتو تاثیر لري، خو لیکوال د افغان ملت مقاومت د یوې قضیې په توګه وړاندې کولو سره استدلال کوي چې د سترو هېوادونو پر وړاندې په کوچنیو هېوادونو کې مقاومتونه او دوامداره مبارزې هم د دې باعث ګرځېدای شي، چې د سترو قدرتونو سیاسي دریځ بدلون ته اړ کړي، حتی د سترو قدرتونو له خوا طرح شوی نړیوال لید لوري کې بدلون راولي. لکه چې یادونه وشوه، د نړیوال نظام د بدلون قضیه په ځلونو په افغانستان کې د افغان ملت د مقاومت له کبله تکرار شوې ده.

په ۱۹۸۰ لسیزې کې د پخواني شوروي اتحاد او کمونېزم ایډیالوژي پر وړاندې د افغان ملت دوامداره مبارزه د دې باعث شوه، چې پخوانی شوروي اتحاد پرنورو د سو سیالیستي او کمونېزم د نظریې له تپلو څخه په شا شي او د افغانستان یرغل ته د پای ټکی کېږدي. پخواني شوروي اتحاد په ۱۹۸۸ – ز کال د جینوا د تړون په اساس خپل پوځ له افغانستان څخه وایست. له دې سره نه یوازې په افغانستان کې بلکه په نړۍ کې سو سیالیستي نظریه مړه شوه. د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د لېبرال ډیموکراسي نظام چې د امریکا په مشرۍ د غربي نړۍ له خوا پر افغانستان تپل شوی وو. د افغان ملت مقاومت له کبله له زوال سره مخامخ شو. په ۲۰۱۸ کال د امریکامتحده ایالاتو خپل سیاسي دریځ ۱۸۰ درجې تغیر کړ، د دوی پر وړاندې د مقاومت له ډلې (طالبانو) سره یې مستقیماً خبرې پیل کړې، په ۲۰۲۰ کال کې د دوحې د تړون په دوران کې د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ژمنه وکړه، چې نور دوی پر افغانانو لیبرل ډیموکراسي سیستم تپلو ته لیواله نه دي.

د امريکامتحده ايالاتو د دوحې د تړون د پرېکړې پر اســاس خپل پوځونه له افغانســتان څخه ويســتل، يوځل بيا د ۱۹۸۸ کال د جينوا د تړون په توګه د اګســټ په ۲۰۲۱ کال کې د امريکا د بشــپړ وتلو څخه مخکې د امريکا لاسپوځی نظام ړنګ شو، اشرف غني وتښتيد او د لېبرال ډيموکراسي سيستم لمنه هم له افغانستان څخه ټوله شوه. په افغانستان کې د لېبرال ډيموکراسي د ناکامۍ سره دا نظريه د نړۍ په نورو برخو کې هم خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. د نړۍ دوه نورو سترو قدرتونو چين او روسيې ولسمرانو ولاديمير پوټين او شي جين پينګ دشــانګهای د همکارۍ د ســازمان په غونډه کې د نوي ((نړيوال نظام)) د رامنځته کولو کوښــښ وکړ چې دا په خپل ذات کې د غربي لېبرال ډيموکراسي د نظريې د زوال ښــودنه کوي. (DW, 2022, p.) پاســنۍ قضــيې ته په کتو ليکوال نړيوالو اړيکو کې د يوې داسې نظريې وړانديز کوي چې: که د سترو قدرتونو سياسي نوسان په کوچنيو هېوادونو کې د سياسي او نظامي تحولاتو باعث ګرځيدلای شي همدارنګه پــــه کوچنيو هېوادونو کې دوامداره او نه ســتړې کېدونکې مبارزه او مقاومت هم کولای شي، د سترو قدرتونو سياسي نوسان اغېزمن کړي.

**د اسلامي امارت سره د سترو قدرتونو سياسي اړيکې**

په يويشتمې پېړۍ کې که له يوې خوا د ملګري ملتونو د امنيت د شورا پنځه دايمي غړي پر نړيوال سياست اغېز لري، له بل پلوه درې ستر قدرتونه لکه چين، روسيه او د امريکامتحده ايالاتو کې هر سياسي نوسان پر کوچنيو هېوادونو اغېز لري. دا چې د چين او روسيې بهرنۍ سياست د رياليزم د نړيوالو اړيکو د تيوري ولاړ دی. دا دواړه هېوادونه کوچنيو هېوادونو کې سياسي تګلارې او د هغوی د ژوند له طريقې سره کومه علاقه نه لري، نو ځکه له دې دواړو هېوادو سره د اسلامي امارت اړيکې د منافعو او امنيتي ګواښونو څرخېږي.

نړيوال سياست کې د لويو تحولاتو له کبله، د ۲۰۲۱ م کال د کورنا د اوبا له ختميدو څخه را وروسته د نړۍ غربي سترو قدرتونو ته نور د (ترهګرۍ پر وړاندې جګړه) او افغانستان کې د نظامي مداخلې دوام د اهميت وړ سياسي موضوع وه، غرب دا موضوع د مونيخ په امنيتي کنفرانس کې هم مطرح کړه. همدارنګه ګاونډي هېوادونه بالخصوص ايران او پاکستان له داخلي کشمکش او اقتصادي بحران سره مخامخ شول. روسيه په اوکرين کې ښکېله شوه، چين له امريکا سره په اقتصادي جګړه کې د ښکيلدو سره سم د تايوان مسئله کې له غرب سره د برخورد په حال کې دی. ...... له افغانستان څخه د سترو قدرتونو پام بل لورې ته اوښتل د اسلامي امارت سره مرسته وکړه، چې د بهرني فشارونو پرته په افغانستان کې يو سرتاسري نظام رامنځته کړي.

د چین او روسیې د خپلو هېوادونو ملي منافعو، اقتصادي او امنیتي گواښونو ته په کتو له نورو هېوادونو سره خپلې اړیکې تنظیموي. دواړو هېوادونو له اسلامي امارت سره اړیکې هم د همدې منافعو په نظر کې نیولو سره تنظیم کړې دي. کله چې د ۲۰۲۳م کال د ډسمبر په میاشت کې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ۱۲ غړو د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د غندنې علامیه صادره کړه، پکې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا یوازې درې دایمي کړو، امریکا، فرانسې او برېتانیې گډون کړی وو. چین او روس د غندونکو له ډلې څخه نه ول. د چین او روسیې دواړه ستر قدرتونه د افغانستان د نظام رویه او پالیسي د افغانستان له خلکو سره د دې هېواد کورنۍ مسئله گڼي(ازادي راډیو، ۲۰۲٤).

په نړیوالو قدرتونو کې د اسلامي امارت اړیکې نسبت نورو ته د امریکامتحده ایالاتو سره ډېرې مهمې او ډېرې پیچلې دي ځکه، چې دواړه هېوادونه تازه له یوې اوږدې جگړې را وتلي دي او غرب لا هم د لیبرالېزم او کنسترکټیویزم نظریاتو متاثره هېواد دی. سره له دې چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري د ۲۹ نیټې څخه را وروسته د امریکا او اسلامي امارت تر منځ د دوحې د تړون راهیسې، د امریکامتحده ایالاتو خپله ستراتیژي بدله کړه او د ۲۰۲۱ کال د اگسټ له ۳۱ وروسته یې په افغانستان کې خپل پوځي حضور ته د پای ټکی کیښود، لا هم امریکا پر افغانستان سیاسي نفوذ لري. د نړۍ اکثره هېوادونه د امریکامتحده ایالاتو سیاست ته په کتو له افغانستان سره سیاسي تعامل او رسمیت پیژندو ته زړه ښه کولای شي.

د افغانستان موجوده حکومت غواړي، چې د ټولې نړۍ سره د امریکا په شمول سیاسي او ډیپلوماتیک روابط ولري. حکومت غواړي، چې د امریکامتحده ایالات بېرته په کابل کې خپل سفارت پرانیزي، دلته پانگونه وکړي او له دې هېواد سره مثبت تعامل ولري. د امریکامتحده ایالات هم غواړي، چې د جیوستراتیژیکي ارزښت لرلو له کبله افغانستان له موجوده حکومت سره روابط ولري. روس او چین ته د افغانستان ډېر زیات نږدیوالی نه د افغانستان د موجوده حکومت او نه هم د امریکامتحده ایالاتو په گټه دی. دا حقایق د امریکا په متحده ایالاتو کې اکثره ریالیستان درک کوي؛ خو له اسلامي امارت سره د روابطو ښه کولو پر وړاندې دوه ستر خنډونه پراته دي.

لومړی خنډ خو دا دی، چې د امریکامتحده ایالاتو او د طالبانو تر منځ اوږدې جگړې شوې دي. د دوه متخاصمینو تر منځ د اړیکو نورمال کېدل وخت ته اړتیا لري. دویم خنډ د امریکامتحده ایالاتو سیاسي تصامیمو کې د لیبرالیستانو رول دی. دوی لا هم په دې باور دې چې اسلامي امارت باید د دوی د فکر په اساس ښځو ته حقوق ورکړي، د بیان، فکر او انفرادي آزادي یې ومني. د بایډن له ادرې سره د اسلامي امارت د اړیکو د نه ښه کېدو یو علت همدا و، د بایډن اداره د لیبرالیستانو او فیمنیستانو څخه متاثره وه. د فیمنستانو او ښځو حقوقو د فعالانو د فشار له کبله د بایډن ادارې د افغانستان لپاره ځانگړی استازی

زلمي خليل زاد لرې او پرځای يې د ټامس ویسټ ترځنګ د ښځو د حقوق د دفاع لپاره رینا امیري هم وټاکله.

میرمن رینا امیري، چې افغاني الاصله امریکایۍ ده په ځلونو په خپلو ټویټونو کې پر اسلامي امارت نیوکې کړې دي. کله چې د اسلامي امارت د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون، د ملي پخلاینې عالي شورا او د اساسي قانون د پلې کولو څارنې خپلواک کمیسون منحل کړ، میرمن امیري د اسلامي امارت د پریکړو په ضد اعتراض وکړ او د یادو لیبرالیستي ادارو منحل کول یې د افغانانو د غوښتنو سره په ټکر کې یاد کړ. د بایډن په دوره کې د امریکا او اسلامي امارت په اړیکو کې هیڅ پرمختګ ونه شو. د بایډن ادارې څخه د میرمن رینا امیري په ډول د اکثرو فیمینستانو غوښته دا وه، چې افغانستان موجوده نظام باید د یوه مشروع حکومت په توګه په رسمیت ونه پېژندل شي، نو ځکه د بایډن په دوره کې هم د امریکا د پخواني ولسمشر بیل کلنټن د ولسمشرۍ د دورې په څېر اسلامي امارت په رسمیت ونه پېژندل شو. (Cristol, 2019)

په ۲۰۲۴ کال د بیا ځل لپاره ډونلډ ټرمپ د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر شو، دا چې ډونلډ ټرمپ او ټیم یې د سیاسي فکري مسیر له اړخه په ریالېزم ولاړ دي. دا کار دې ته زمینه برابروي، چې د افغانستان موجوده نظام سره به په اصطلاح د ښځو او بشري حقوقو او لیبرالیستي ارزښتونو په نظر کې نیولو پرځای د ملي منافعو په نظر کې نیولو سره اړیکې ټینګي کړي. د امریکا اوسنی ولسمشر ته په افغانستان کې د امریکایي بندیانو مسئله مهمه وه، په خپلې یوې وینا کې یې افغانستان کې حاکم نظام څخه غوښتنه هم کړې وه، چې د دوی امریکایي بندیان باید آزاد کړي. د زلمي خلیل زاد په منځګړیتوب، اسلامي امارت بندیان د ډیپلوماتیکو اړیکو د پیل د حسن نیت د اظهار په موخه آزاد کړل. وروسته د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت مسؤلینو کابل کې د امریکا د سفارت او په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت د بیا پرانیستې یادونه وکړه.

په افغانستان کې موجوده حکومت له یو ستر امتحان او تاریخ ټاکونکي پړاو څخه د تیریدو په حال کې دی. لکه څرنګه چې یادونه وشوه، د افغانانو د مبارزې په پایله کې نه یوازې دا چې په افغانستان کې، سوسیالیستي سیستم له منځه ولاړ، د سوسیالیستي سیستم شړۍ له نړۍ څخه هم ورټوله شوه؛ خو د افغانانو اشتباهات د دې باعث وګرځېدل، چې هغه افغانان چې شرقي اروپا یې د کمونېزم له شر څخه وژغورله ونه شي کولای د ځان لپاره یو باثباته نظام جوړ کړي، چې دې کار د لیبرالېزم لاس افغانستان ته را اوږد کړ، اوس بیا په ۲۰۲۱ کال کې د لیبرالېزم نظریه په افغانستان کې وننګول شوه، د نړۍ په سطحه د لیبرال ډیموکراسي سیستم له زوال سره مخامخ دی، نو افغانستان ته د یوه مستحکم نظام د جوړیدو

چانس په لاس ورغلی دی. څرنګه چې یادونه وشوه، چې د سترو قدرتونو ترڅنګ د سیمې قدرتونه د نړۍ په نورو موضوعاتو کې بښکېل دي. افغانستان د توجه ټکی نه دی او دا د مستحکم، همه شموله او عادل نظام جوړیدو ته ښه موقع ده. د یادونې وړ ده، چې دا موقع به ډېر وخت پاتې نه وي.

د افغانستان تېر تاریخ او سترو لاسته راغلو چانسونو ضایع کېدو ته په کتو، موجوده حکومت نه یوازې، دې ته اړتیا لري، چې له هیواد څخه بهر له نورې نړۍ سره د متقابل احترام په چوکاټ کې اړیکې ټینګې کړي بلکه حکومت د هېواد دننه خپلو خلکو ته هم مسؤل دی، چې خپل اتباع له نظام څخه قانع او راضي کړي، ټولنیز عدالت تأمین کړي. نظامونه هغه وخت دوام مومي، چې ټولنیز عدالت تأمین او ولس ته هر اړخیز خدمات وړاندي کړای شي. کله چې د ملت حقوق خوندي او مشروع غوښتنې یې ومنل شي نو د ملت او حکومت تر منځ واټونه کمیږي او نظامونه مضبوطیږي. د هغو نظامونو بقاء تل له ګواښ سره مخامخ وي، چې ملت یې له خپل نظام څخه ناهیلی او د ویرې په حال کې وي. او ډېری اتباع یې غواړي، چې هېواد کې د قرار پرځای د فرار لاره خپله کړي.

**پایله**

د نړیوالو اړیکو د نظریاتو په رڼا کې ولیدل شول، چې سترو قدرتونو سیاسي نوسانات د کوچنیو هېوادونو په وضعیت کې د پام وړ بدلونونه رامنځته کوي، په ځانګړې توګه، د افغانستان قضیه د دې ډول نړیوالو اړیکو د نظریاتو پیاوړتیا ته وده ورکوي. پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد تېری، د امریکا تر مشرۍ د غرب یرغل او د اسلامي امارت بیا رامنځته کېدل د نړیوالو قدرتونو د سیاسي نوساناتو اغېزې روښانه کوي.

په دې مقالې کې روښانه شوه، چې د افغانستان تاریخ د دې ښکارندویي کوي چې د بهرنیو سترو قدرتونو مداخلې د کورنیو سیاسي تحولاتو لامل ګرځي. همدارنګه د کور د ننه د آزادۍ لپاره وسله والې مبارزې هم د سترو قدرتونو اوږد مهاله ارادې او تصامیم باندې تاثیرات درلودلای شي. د شوروي اتحاد د یرغل پر وړاندې د افغانانو مقاومت سبب شو، چې په پایله کې یې نه یوازې د شوروي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي بلکه په نړیواله کچه د سوسیالیستي سیاسي او اقتصادي سیستم سقوط وکړي. په ۲۰۰۱ – ز کال په افغانستان باندې امریکایي یرغل بیا د لیبرالېزم د ارزښتونو د تپلو هڅه وکړله، خو د افغان ملت د مذهبي او ملي مقاومت له برکته د لیبرالېزم نظریه هم له زوال سره مخامخ شوه

مقاله کې لیکوال د نړیوالو اړیکو په علمي بهیر کې یوه نظریه وړاندې کوي، هغه دا چې که د سترو قدرتونو سیاسي بدلونونه په کوچنیو هېوادونو تاثیرات لري په کوچنیو هېوادونو کې هم د خپلواکۍ لپاره مقاومت او دوامداره ملي خوځښتونه د سترو قدرتونو د سیاسي دریځ په بدلون کې هم اغېز درلودلای

شي. د روس او امریکې پر وړاندې د افغانستان مقاومتونه او دوامدارې مبارزې د دې امر ښکارندویي کوي. په دې توګه، لیکوال وړاندیز کوي چې کوچني هېوادونه نه یوازې د سترو قدرتونو په نوساناتو کې بلکه د خپل مقاومت او مبارزې له لارې د سترو قدرتونو د سیاسي وضعیت په ټاکلو کې هم اغېزه لري. دا چې افغانستان له یوه ستر نړیوال تحول څخه تېر شوی دی، نو د افغانستان د اوسني حکومت لوی مسؤلیت لري، چې نه یوازې د نړیوالو اړیکو په رڼا کې د متقابل احترام او همکارۍ په اساس د نورو سترو هېوادونو سره اړیکې لا پیاوړې کړي، بلکه د دې لپاره چې افغانستان د نړیوالو قدرتونو د سیاستونو د بدلون له منفي اغېزو څخه وساتل جدي اړتیا لیدل کېږي چې حاکم نظام د هیواد د ننه هم ټولنیز عدالت تأمین کړي او د خپلو اتباعو حقوق خوندي کړي. د دې پروسې د بریا لپاره حکومت باید د خلکو مشروع غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره عمل وکړي، تر څو د نظام د ټینګښت او ثبات لپاره د خلکو باور او ملاتړ ترلاسه شي.

## مأخذونه

Burton, J. (2018). NATO's Durability in a Post-Cold War World. Suny Press.

Cristol, J. (2019). The United States and the Taliban before and after 9/11. Palgrave Pivot. https://doi.org/10.1007/978-3-319-97172-8

David, S. R. (1991). Explaining third world alignment. World Politics, 43(2), 233–256.

Dobbins, J., & Malkasian, C. (2015). Time to Negotiate in Afghanistan: How to Talk to the Taliban. Foreign Affairs, 94(4), 53–64.

DW. (2022). ایا چین او روسیه به د نړۍ نظام بدل کړلای سي؟ –. dw.com. https://www.dw.com/ps/xi-putin-look-to-challenge-world-order-at-regional-summit/a-63163410

Fukuyama, F. (1989). The end of history? The National Interest, 16, 3–18.

Gates, R. M. (2014). Duty: Memoirs of a secretary at war.

Guzzini, S., & Leander, A. (2005). Constructivism and international relations: Alexander Wendt and his critics. Routledge.

Huntington, S. P. (1993). The clash of civilizations? The clash of civilizations. Foreign Affairs, 22(28), 1–12.

Kean, T., & Hamilton, L. (2004). The 9/11 commission report: Final report of the national commission on terrorist attacks upon the United States (Vol. 3). Government Printing Office.

Keohane, R. O., & Nye Jr, J. S. (1973). Power and interdependence. Survival, 15(4), 158–165.

Lugo, L., Cooperman, A., Bell, J., O'Connell, E., & Stencel, S. (2013). The world's Muslims: Religion, politics and society. World.

Malkasian, C. (2021). The American war in Afghanistan: A history. Oxford University Press.

Massad, J. A. (2020). Islam in liberalism. University of Chicago Press.

Miller, P. D. (2013). Armed state building: Confronting state failure, 1898-2012. Cornell University Press.

Morgenthau, H. J. (1973). Politics among nations. Library of Congress.

Nye, J. S. (1990). Soft power. Foreign Policy, 80, 153–171.

Pompeo, M. (2020, September 12). REMARKS BY SECRETARY OF STATE MICHAEL POMPEO AT THE INAUGURATION OF AFGHANISTAN PEACE NEGOTIATIONS, Doha, Qatar. U.S. Embassy in Afghanistan. https://af.usembassy.gov/remarks-by-secretary-of-state-michael-pompeo-at-the-inaugration-of-afghanistan-peace-negotiations-doha-qatar/

Pratt, N. (1995). Out of Afghanistan: The Inside Story of the Soviet Withdrawal, by Diego Cordovez & Selig S. Harrison. 450 pages, map, b&w photographs, appendix, notes, index. New York: Oxford University Press, 1995. $35.00 (Cloth) ISBN 0-19-506294-9. Review of Middle East Studies, 29(2), 234–235.

Rice, C. (2011). No higher honor: A memoir of my years in Washington. Crown.

Riedel, B. (2014). What We Won: America's Secret War in Afghanistan, 1979 89. Brookings Institution Press.

Tanner, S. (2009). Afghanistan: A military history from Alexander the Great to the war against the Taliban. Da Capo Press.

Tomsen, P. (2017). The Wars of Afghanistan messianic Terrorism, Tribal Conflects, And the failures of Great Powers. P|ublicAffairs. https://www.publicaffairsbooks.com/titles/peter-tomsen/the-wars-of-afghanistan/9781610392624/

Ullah, H., AHMAD, R., & KHAN, M. M. (2020). Afghanistan: US-Taliban Peace Talks: CPEC Perspective. Conflict Studies Quarterly, 32.

Van Linschoten, A. S., & Kuehn, F. (2012). An enemy we created: The myth of the Taliban-al Qaeda merger in Afghanistan. Oxford University Press.

Wallerstein, I. (2004). World systems theory. End of Capitalism Garner & Hancock, 611–616.

Waltz, K. (2018). Man, the state, and war: A theoretical analysis. Columbia University Press.

ازادي راډیو. (۲۰۲٤). د امنیت شورا دوو غړو د طالبانو د امربالمعروف قانون له غندلو سره مخالفت کړی. ازادي راډیو. https://pa.azadiradio.com/a/33103097.html

# Political Shifts of Major Powers and Their Effects on Small Countries: A Case Study of Afghanistan's 2021 Political Change

Senior Teaching Assistant Dr. Ahmad Javid Shakib, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism
Email: javid.shakib@gmail.com or javid.shakib@szu.edu.af

**Abstract**
Since the Treaty of Westphalia in 1648, the rise of nation-states has prompted major powers to assert influence over smaller countries. European colonial powers, most notably Spain, established colonies across Africa, Asia, and the Americas, a trend that has persisted beyond the era of colonialism. As a result, small nations frequently grapple with instability and crises driven by the political fluctuations of these global powers. This article investigates the impact of the political dynamics of major powers on smaller states and explores the capacity of these nations to resist such external influences. Focusing on Afghanistan's armed resistance during the 2021 regime change, the author contends that while the political shifts of major powers significantly affect smaller countries, domestic revolutionary movements can also catalyze changes in the policies of these powers. Utilizing an inductive methodology informed by international relations theories, this study analyzes the complex interplay between the political fluctuations of major powers and the status of smaller nations. Furthermore, it delves into the role that major powers have played in shaping the economic and political landscape of Afghanistan, offering insights into the broader implications for international relations.

**Keywords**: Great Power, Small countries, Political fluctuations, Armed Resistance, Regime Change.